Kent County Council kent.gov.uk

District Logo

REFUGEE COUNCIL

# د کډوالو د بیا مېشتېدو پروګرام
# د خصوصي حریم خبرتیا

د خصوصي حریم د خبرتیا د بیاکتنې نېټه: اپرېل، 2025

موږ د خصوصي حریم په اړه دې خبرتیا ته په دوامداره توګه بیاکتنه کوو. دا وروستی ځل د 2025 کال د اپرېل په 9مه تازه شوې ده.

د کینټ کاونټي شورا ستاسي خصوصي حریم ته درناوی کوي او ستاسي د شخصي معلوماتو د ساتنې ژمنه لري. دا د خصوصي حریم خبرتیا به تاسي ته دا معلومات درکړي چې موږ ستاسي شخصي معلومات څنګه ساتو، ستاسي د محرمیت حقونه څه دي، او قانون څنګه تاسي ساتي.

دا خبرتیا دا څرګندوي چې د کینټ کاونټي شورا، *[ډلته د کورونو اداري نوم ولیکئ]* شورا، او د کډوالو شورا (Refugee Council) ستاسي او ستاسي د کورنۍ کوم معلومات لري، دا معلومات څنګه کاروي، او همدارنګه، هغه اضافي معلومات چې موږ ترلاسه کوو، څنګه اداره کوو. د دې سند لپاره، پورته درې اداري د "درېګونو ملاتړو ادارو" په نامه یادېږي.

## موږ څوک یو؟

کینټ کاونټي شورا (KCC) ستاسي ځینې شخصي معلومات راټولوي، کاروي او مسؤلیت یې لري. کله چې موږ دا کار کوو، موږ د انګلستان د عمومي معلوماتو ساتنې مقرراتو (UK GDPR) او د معلوماتو ساتنې قانون 2018 (DPA 2018) له مخې دا کار کوو. موږ د دې شخصي معلوماتو د 'کنټرولر' په توګه مسؤل یو. زموږ د معلوماتو د ساتنې افسر بنجامین واټس دی.

هغه معلومات چې درې ملاتړي اداري ستاسو په اړه ساتي، راټولوي او کاروي یې د عمومي معلوماتو ساتنې مقرراتو (GDPR) لاندې تنظیم کېږي چې په ټوله اروپایي اتحادیه (او په برېتانیا کې) پلي کېږي. درې ملاتړي اداري د KCC سره د 'ډیټا کنټرولر' په توګه او د کډوالو شورا او *[ډلته د کور جوړونې اداري نوم داخل کړئ]* د دې قوانینو د موخو لپاره د دې شخصي معلوماتو 'ډیټا پروسس کوونکو' په توګه مسؤلیت لري.

دا د خصوصي حریم خبرتیا د برېتانیا حکومت لخوا نافذ شوي لاندې د بیا مېشتېدنې سکیمونه پوښي:

- د برېتانیې د بیا مېشتېدو پروګرام
- د افغانانو د بیا مېشتېدو پروګرام

## هغه شخصي معلومات چې موږ یې راټولوو

تر دې وړاندې چې تاسي کینټ ته راشئ، هغه شخصي معلومات چې موږ یې ستاسي او ستاسي د کورنۍ په اړه راټولوو، د برېتانیې د حکومت یا له بلې شورا څخه ترلاسه کېږي که چېرې تاسي له کومې بلې سیمې څخه کینټ ته راغلي یاست. کینټ کاونټي شورا بیا دا معلومات له *[ډلته د کورونو اداري نوم ولیکئ]* شورا او د کډوالو شورا سره شریک کړي.

هغه معلومات چې موږ شریک کړي، د شخصي معلوماتو لاندې کټګورۍ په کې شاملې دي:

- بشپړ نوم، پته، د زېږېدنې نېټه، او د اړونده ماشومانو تفصیلات
- اړونده د پېژند پاڼو نمبرونه، د کډوالۍ حالت، برېتانیا ته د راتګ نېټه
- د نړدې خپلوانو جزئیات، په شمول د هغو کسانو چې د یو این اچ سي آر سره ثبت دي.
- د زدکړې کچه، د ویلو ژبې او د سواد کچه

- پخوانۍ دندې، ترلاسه شوې روزنه او مهارتونه
- د روغتیا اوسني وضعیت په اړه طبي معلومات
- ستاسو د خپل اصلي هېواد پرېښودلو دلیلونه، له هغه وروسته تر اوسه په څه لګیا یئ، او په انګلستان کې ستاسو د بیامېشتېدو دلیلونه.

## موږ ستاسې شخصي معلومات څنګه کاروو؟

تر دې وړاندې چې تاسې برېتانيې ته راشئ، دا معلومات شریکول د ستاسې د حیاتي ګټو لپاره اړین بلل شوي وو. د دې معلوماتو پروسس کول ستاسو او ستاسو کورنۍ د خطر سره مخ اشخاصو په توګه د ساتنې لپاره هم اړين ګڼل شوي وو. شریک شوي معلومات د دې لپاره کارول شوي چې موږ پرېکړه وکړو چې آیا موږ کولی شو تاسو ته په دې سیمه کې کور درکړو که نه او همدارنګه ستاسو د راتګ لپاره د ملاتړ پلان او بسته چمتو کړو.

تر دې مخکې چې تاسو کینټ ته راشئ، کینټ کاونټي شورا اړتیا درلوده چې ستاسو ځینې معلومات زموږ د سازمانونو دننه نورو څانګو او بهرنیو ادارو سره شریک کړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو ټولې اړتیاوې پوره شي. دا شریکول د کور ورکولو، زدکړو، مرستو، ټولنیزې پاملرنې، د لویانو زدکړو او نورو اړینو موخو لپاره وو. موږ په دې قضیو کې یوازې اړین تر ټولو کم معلومات شریکوو ترڅو تاسو ته خدمت چمتو شي.

سربېره پردې، موږ ستاسو د طبي اړتیاوو په اړه معلومات د ملي روغتیا خدمت (این ایچ ایس) سره شریک کړي، تر څو تاسو ته یو عمومي ډاکټر (جي پي) او نور اړین تخصصي خدمات برابر شي. د دې معلوماتو شریکولو بنسټ هماغه دی چې پورته ذکر شوی و.

## ستاسو د برېتانيې له راتګ راهیسې ترلاسه شوي او ساتل شوي معلومات

اوس چې تاسو په برېتانیا کې یاست، دریځ ملاتړ کوونکي بنسټونه به تاسو ته د بیا مېشتېدو ملاتړ تر هغې مودې چمتو کوي چې ستاسو د بیامېشتېدو په سکیم کې ستاسو لپاره ځانګړې شوې ده. د دې کار په بهیر کې به موږ ستاسو او ستاسو د کورنۍ په اړه نور اضافي معلومات هم راټول کړو. په دې کې به هغه موارد شامل وي لکه کوم ښوونځي/ کالجونه چې پکې شامل شوي یاست، کوم کار یا روزنه چې ترسره کړې مو وي، غوښتل شوې مرستې، نورو متخصصو ادارو ته مراجعه کول او نورې مسئلې چې ممکن رامینځته شي. دریځ ملاتړ کوونکي بنسټونه غواړي هغه اړوند معلومات چې موږ په انفرادي ډول ستاسو او ستاسو ماشومانو په اړه راټولوو، یو بل سره شریک کړو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو د ملاتړ غوره ممکنه بسته ترلاسه کوئ.

د یادونې وړ ده که تاسو کومې ځانګړې ادارې (لکه د طبي درملنې، مشورې او داسې نورو) ته راجع شئ، دریځ ملاتړ کوونکي بنسټونه به ستاسو د درملنې یا بحث جزئیات نه ترلاسه کوي، پرته له دې چې تاسو وغواړئ موږ ته دا معلومات راکړئ ترڅو ستاسو سره مرسته وکړو.

## د ځانګړې کټګورۍ معلومات

لطفاً په یاد ولرئ چې ځینې هغه معلومات چې دریځ ملاتړ کوونکي ادارې یې ستاسو په اړه ساتي، د ځانګړې کټګورۍ معلومات بلل کیږي. دا هغه معلومات دي لکه ستاسو روغتیا، نژاد، قومي اصل، مذهبي یا فلسفي عقاید، سیاسي نظرونه، د تجارتي اتحادیې غړیتوب، هغه بایومتریک معلومات چې ستاسو د پېژندلو لپاره کارول کیږي، جینیټیکي معلومات او ستاسو د جنسیت پورې اړوند معلومات په کې شامل دي. ممکن داسې شرایط وي چې موږ د قانون له مخې د دې معلوماتو سپارلو ته اړ یو یا ستاسو د څرګند رضایت پرته د دې معلوماتو شریکولو لپاره یو قوي قانوني دلیل شتون ولري، د مثال په توګه په طبي بیړني حالت کې.

## هغه دلیلونه چې موږ ستاسو شخصي معلومات راټولولی او کارولی شو

کله چې دريګوني ملاتړي اداري ستاسي شخصي معلومات راټولوي يا شريکوي، موږ پر لاندې قانوني بنسټونو تکيه کوو:

- د عمومي معلوماتو د ساتنې د مقرراتو (GDPR) د 6مې مادې (1) (e) فقره وايي چې د معلوماتو پروسس هغه مهال قانوني دی چې دا د عامه ګټو لپاره د يوې دندې د ترسره کولو يا د کنټرولر ته ورکړل شوې رسمي واک د کارونې لپاره اړين وي. موږ ستاسې ډېر معلومات پر همدې بنسټ راټولوو او کاروو. که موږ داسې احساس کړو چې د 6مې مادې (1) (e) فقره موږ ته دا حق نه راکوي، نو تر کارولو مخکې به له تاسې سره خبرې وکړو.

کله چې موږ ستاسې د "ځانګړو کټګوريو شخصي معلومات" راټولوو يا شريکوو (لکه روغتيا، نژاد، قومي اصل، جنسي تمايل)، دريګوني اداري پر لاندې قانوني بنسټونو تکيه کوي:

- د عمومي معلوماتو د ساتنې د مقرراتو د 9 (2) (g) ماده (پروسس کول د پام وړ عامه ګټو دلايلو لپاره اړين دي (د دولتي موخو لپاره)،
- د 9مې مادې (h) فقره روغتيا/ټولنيز خدمات (د اړينو خدماتو ته د لاسرسي لپاره)
- 9مه ماده (i) عامه روغتيا (د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې عامه روغتيا ساتل کيږي او هغو کسانو ته پاملرنه چمتو کيږي چې ورته اړتيا لري)،

د قانوني اساس په توګه چې موږ ستاسو د شخصي معلوماتو ځانګړې کټګورۍ معلومات راټولوو او کاروو.

- که موږ داسې احساس کړو چې د9مې مادې (2) (g فقره موږ ته دا حق نه راکوي، نو تر کارولو مخکې به له تاسې سره خبرې وکړو.

لطفا په ياد ولرئ چې تاسو کولای شئ په هر وخت کې خپل رضايت بيرته واخلئ، مګر دا ممکن د دريې ملاتړ کوونکو ادارو له خوا تاسو ته د خدمت کچه راکمه کړي، او ځينې حالتونو کې هيڅ خدمت ونه شي چمتو کولای.

کله چې پورته شرط باندې تکيه کوو، موږ ستاسو د ځانګړي کټګورۍ معلوماتو په اړه لاندې مناسب د ساتنې ګامونه اخلو:

- موږ د قانوني پروسس لپاره يوه مناسبه پاليسي لرو، کوم چې تشريح کوي چې د معلوماتو د ساتنې اصول څنګه خوندي کيږي کله چې د ځانګړې کټګورۍ معلومات کارول کيږي. دا پاليسي د هغه وخت لپاره ساتل کيږي چې موږ ستاسو معلومات کاروو او د شپږو مياشتو لپاره وروسته له هغه چې موږ يې کارول بند کړو.
- موږ د ساتلو مهالويش لرو چې تشريح کوي چې څومره وخت معلومات ساتل کيږي.
- موږ د خپل پروسس ريکارډ زموږ په 'د پروسس فعاليتونو ريکارډ' کې ساتو او د هر هغه دليل/و لپاره چې زموږ د ساتلو مهالويش له دورې څخه انحراف کوي ثبت کوو.

موږ به ستاسو هغه حقونه هم په رسميت وپيژنو چې د برېتانيا د قضيې قانون لاندې رامينځته شوي، چې په ټوليز ډول د محرميت د عام قانون دندې په نوم پيژندل کيږي. د محرميت دنده د پارلمان ليکل شوی قانون نه دی، دا "عام" قانون دی. دا پدې مانا ده چې دا د يوې مودې په اوږدو کې د محکمو له لارې تاسيس شوی. دا پيژني چې ځينې معلومات د محرميت ځانګړتيا لري، يعنې هغه شخص يا اداره چې معلومات يې ورکړي وي، تمه لري چې دا معلومات به له نورو سره نه شريکيږي. NHS انګلستان د محرميت مشورتي ګروپ (CAG) ته د 251 برخې غوښتنليک تصويب تاييد کړی و.

## ستاسې شخصي معلومات تر څه وخته ساتل کيږي؟

دريې ملاتړ کوونکي اداري به ستاسو شخصي معلومات ستاسو د ملاتړ د دورې له پيل څخه د افغان د بيا مېشتېدو پروګرام لاندې پنځه کاله، او د برېتانيې د بيا مېشتېدو پروګرام لاندې اوو کلونو لپاره وساتي.

که تاسو یا ستاسو د کورنۍ کوم غړی د بیا مېشتېدنې له سکیم څخه مخکې لاړ شئ، ستاسو معلومات به د پورته ذکر شوې پنځه یا اووه کلنې مودې تر پایه د درې ملاتړ کوونکو ادارو لخوا د ټولې کورنۍ په توګه ساتل کېږي، پرته له دې چې تاسو خپله کله سکیم پرېږدئ.

ستاسو د ملاتړ دورې په پای کې، موږ به ستاسو معلومات د حکومت د لارښوونو او د معلوماتو ساتنې د پالیسیو سره سم وساتو مخکې له دې چې په خوندي ډول له منځه یوړل شي.

**موږ ستاسې شخصي معلومات له چا سره شریکوو؟**

په منظمو دورو کې (او کله کله د دې وختونو نه بهر هم)، کینټ کاونټي شورا باید د برتانوي حکومت سره ستاسو د بیا میشتیدنې د پرمختګ په اړه معلومات شریک کړي او دا ډاډ ترلاسه کړي چې تاسې د بیا مېشتېدو د پروګرام لاندې مناسب ملاتړ ترلاسه کوئ.

سربېره پر دې، کینټ کاونټي شورا (*د خپل ځان او [ دلته د کورونو ادارې نوم] شورا په استازیتوب*) باید د کډوالو شورا لخوا تاسې ته د درکړل شوي ملاتړ ځارنه وکړي، او د کډوالو شورا باید د تاسې او ستاسې د کورنۍ د وضعیت په اړه منظم راپور ورکړي. کله ناکله کینټ کاونټي شورا یا [*دلته د کورونو ادارې نوم*] شورا تاسې ته د لیدنې لپاره راځي. په دې لیدنو کې راټول شوي معلومات که له یو بل سره شریک شي، کولای شي درته لا ښه خدمت برابر شي.

دریګونې اداري ممکن د اړتیا په صورت کې، ستاسې معلومات له نورو ادارو سره هم شریک کړي، څو تاسې او ستاسې کورنۍ ته نور خدمات برابر شي. په دې کې ممکن لاندې اداري شاملې وي: د کار او تقاعد وزارت (ډي ډبلیو پي- جاب سنټر پلس)، د آغلي ملکي د عوایدو او ګمرکاتو اداره (اچ ایم آر سي)، د اسانتیاوو برابروونکي، زموږ په اداره کې تخصصي اداري او څانګې، خیریه سازمانونه چې اضافي مرستي چمتو کوي او داسې نورې مناسبې اداری. ځیني وختونه دا خدمات ستاسو په غوښتنه چمتو کیږي، او ځیني وختونه، موږ ستاسو لپاره د خپلو قانوني مسؤلیتونو د پوره کولو لپاره ترتیب برابروو.

موږ به ستاسو شخصي معلومات د قانون د پلي کولو ادارو یا نورو چارواکو سره هم شریک کړي که چیرې قانون یې غوښتنه وکړي. موږ به د شخړې، شکایت یا ادعا په صورت کې شخصي معلومات له خپلو قانوني او مسلکي سلاکارانو سره شریک کړو. موږ د 9مې مادې (2)(f) فقرې له مخې دا حق لرو چې د خاصو معلوماتو پروسس د قانوني دعوو د جوړولو، عملي کولو، یا دفاع لپاره ترسره کړو، یا کله چې محکمې په خپله قضایي صلاحیت کې عمل کوي.

**ستاسو حقونه**

د جي ډي پي آر لاندې تاسو لاندې حقونه لرئ چې په وړیا ډول یې کارولی شئ:

- پوه شئ چې موږ ستاسو معلوماتو سره څه کوو او ولې یې کوو
- وپوښتئ چې موږ ستاسو په اړه کوم معلومات لرو
- غوښتنه وکړئ چې موږ ستاسو په معلوماتو کې تېروتنې سمې کړو
- مستقیمي بازارموندنې سره مخالفت وکړئ
- د معلوماتو د کمیشنرانو دفتر ته شکایت وکړئ
- په هر وخت کې خپل رضایت بیرته واخلئ

مربوط په دې چې موږ ستاسو معلومات ولې کاروو، تاسو ممکن لاندې اضافي حقونه هم ولرئ:

- موږ څخه وغواړئ چې ستاسو په اړه ساتل کېدونکي معلومات له منځه یوسو
- خپل معلومات په الکترونیکي ډول ځان یا بل سازمان ته انتقال کړئ
- هغو پرېکړو سره مخالفت وکړئ چې ستاسو پر ژوند مهمه اغیزه لري
- زموږ د معلوماتو د کارولو څرنګوالي سره مخالفت وکړئ

- په ځانګړو لارو کې زموږ د معلوماتو د کارولو مخه ونیسئ

دريګوني ملاترړي اداري هېڅ ډول اتومات پرېکړي يا شخصيت جوړونه نه کاروي. موږ به تل ستاسو د غوښتني سره سم عمل کولو هڅه وکړو، خو که قانون موږ اړ کړي، موږ بايد ځيني معلومات وساتو يا وکاروو. لطفا په ياد ولرئ: ستاسو غوښتنه ممکن زموږ د خدمت وړاندې کول وځنډوي يا يې مخه ونيسي.

د خپلو حقونو په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره، په شمول د هغو شرايطو چې په کې دا حقونه پلي کيږي، د د انګلستان د معلوماتو کميشنر دفتر (آی سي او) لاربنووني وګورئ چې د عمومي معلوماتو د ساتني مقرراتو لاندې د اشخاصو د حقونو په اړه دي.

## د معلوماتو د شريکولو پر وړاندې اعتراض کول

تاسي دا حق لرئ چې د خپلو شخصي معلوماتو د شريکېدو مخالفت وکړئ. له همدې امله بايد له هغو دريګونو ملاترو ادارو سره تماس ونيسئ چې درسره مرسته کوي. که تاسي د معلوماتو د شريکولو مخالفت وکړئ، دا به په دې معنی وي چې ستاسي معلومات به د هيڅ ډول ملاتړ لپاره شريک نه شي. موږ له تاسي غواړو چې له دې پرېکړې مخکې ښه غور وکړئ، ځکه دا مخالفت کولای شي زموږ د خدمت وړاندې کول ځنډني کړي يا يې په بشپړه توګه مخه ونيسي.

که تاسو اعتراض وکړئ، حق مطلق نه دی، او موږ ممکن د معلوماتو کارولو ته دوام ورکړو که چيرې موږ وکولی شو قانع کوونکي مشروع دليلونه وړاندې کړو.

## ستاسو د شخصي معلوماتو خوندي ساتل

دري ملاتړ کوونکي اداري د مناسبو امنيتي تدابيرو په لرلو سره ډاډ ورکوي چې ستاسو شخصي معلومات به په تصادفي ډول له لاسه ورنکړل شي، په غير مجاز ډول به و نه کارول شي او نه به هم لاسرسی ورته وشي. موږ ستاسو شخصي معلوماتو ته يوازې هغو کسانو ته لاسرسی محدود کړی دی چې د دې معلوماتو د پوهيدو لپاره قانوني اړتيا لري. هغه کسان چې ستاسو معلومات پروسس کوي، يوازې په مجاز ډول به دا کار وکړي او د محرميت مکلفيت تابع دي.

موږ د هر مشکوک معلوماتي امنيتي سرغړاوي سره د مبارزې لپاره هم کړنلارې لرو. که چېرته داسې کوم شکمن سرغړاوی پيښ شي، په هغو مواردو کې چې موږ قانوني مکلفيت ولرو موږ به تاسو او اړوند تنظيموونکي ته خبر ورکړو.

## اړيکه

که تاسي غواړئ خپل حقونه عملي کړئ، يا که شکايت لرئ چې ستاسي معلومات ولي راټول شوي، څنګه کارول شوي، يا تر څومره مودې پوري ساتل شوي دي، لطفاً د معلوماتو د مقاومت او روڼتيا له ډلي سره په لاندې ايميل تماس ونيسئ: data.protection@kent.gov.uk

تاسي همداراز کولای شئ زموږ د معلوماتو د ساتني افسر بنجامين واټس سره په دې ايميل تماس ونيسئ:dpo@kent.gov.uk
د برېتانيې د معلوماتو د ساتني مقررات تاسي ته دا حق درکوي چې د معلوماتو د کمېشنر دفتر ته شکايت وکړئ. تاسي کولای شئ له دوی سره په لاندې شمېره تماس ونيسئ:03031 231113
زموږ د شرکت د خصوصي حريم بيان ولولئ.